**د نېکمرغه عید الأضحی د رارسېدو له امله د حزب التحریر- ولایه افغانستان د مطبوعاتي دفتر د تبریکۍ پیغام**




د حزب التحریر ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر، دعوتګرانو، مجاهدینو او ټول اسلامي امت ته د عید الأضحی د رارسېدو له امله مبارکي وايي او له الله سبحانه وتعالی څخه غواړي چې زموږ او ستاسو طاعات، عبادات، زحمتونه او د نړیوال قدرت په توګه د پراخ او پیاوړي اسلامي دولت د تأسیس او اسلام د حاکمیت په لاره کې ټولې مبارزې، سربښندنې او قربانۍ قبولې کړي.

عید الأضحی (د قربانۍ اختر) هر کال اسلامي امت ته د خوښیو او خوشالیو پر راوړلو سربېره، د غوره او ستایل شوي ابراهیمي سنت یاد را تازه کوي. د قربانۍ اختر موږ ته ابراهیم علیه السلام را یادوي، ځکه د هغه شخصیت او سیرت د مؤمنانو لپاره تر ټولو غوره بېلګه ده.

**«قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ»** ﴿الممتحنه:۴﴾

قطعاً تاسو ته ابراهیم علیه السلام او هغه کسان چې له هغه سره ملګري وو، (د پیروۍ لپاره) غوره نمونه دي.

د ابراهیم علیه السلام یاد مو، د هغه د ملت په اړه فکر ته بیایي، چې څه ډول د هغه پر ملت، دین او طریقه باندې په منګولو ټینګولو سره له نورو ملتونو، ارزښتونو او نظامونو څخه ځانونه آزاد کړو. هو؛ د ابراهیم ملت د ژوند هغه ډول دی؛ چې یوازې له اسلام سره معنی مومي.

د ابراهیم علیه السلام د ملت پیروي دا ده، چې یوازې الله متعال، د هغه شریعت او قوانین په ولایت سره ونیسو او له کفر، نړیوالو کفري مفکورو، بنسټونو، سازمانونو او دولتونو څخه بیزاري او برائت اعلان کړو او د معاصر نمرودي بت (نړیوال سېکولرېزم) پر ککرۍ د حق د تبر داسې ځواکمن ګوزار وکړو، چې بشري حقونه، د ښځو حقونه، نړیواله ټولنه، ملګري ملتونه، دولت-ملت، ملي پولې، ملي‌ګټې او نور اندامونه یې دړې وړې او له منځه لاړ شي.

هو؛ ابراهیم علیه السلام داسې خصوصیات لرل چې الله سبحانه وتعالی د هغه ملت او صفات موږ ته د بېلګې او امت په توګه وړاندې کړل.

**«إِنَّ إِبْرَاهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِّلَّهِ حَنِيفًا»** ﴿النحل:۱۲۰﴾

له شک پرته ابراهیم (د ټولو فضایلو جامع) امت یا پېشوا او د (الهي فرمان) مطیع او حقپال (له باطل او بدیو څخه ګوښه کېدونکی) و.

هغه د الله سبحانه وتعالی په لار کې تر ټولو غوره قرباني ورکوونکی و او د حق د حاکمیت په لاره کې یې یوازې پر الله سبحانه و تعالی توکل درلود. کله به چې د الله سبحانه وتعالی حکم ورته راغی، نو په زړه کې له هېڅ حرج او تشویش پرته یې د هغه امر ته لبیک وایه او عملي کاوه

يې. تر ټولو سختو آزموينو ته يې چمتوالی ښود  او خپل عزيز او د زړه ټوټه يې د قربانۍ تر تېغ لاندې ځملاوه. هغه موږ ته راوښوده چې آن د سالم فطرت په واسطه هم کولای شو نمرودي نظامونه وپېژنو او د هغو بتان و نړوو. په دې شرط چې د اوسنيو نمروديانو له اور څخه ونه وېرېږو او الله سبحانه وتعالی پر هر څه غالب وګڼو.

هو؛ که د الله سبحانه وتعالی پر حکم، قضاوت، سليم عقل او سالم فطرت باندې منګولې ټينګې کړو، نو کولی شو په ډېرې اسانۍ د اوسني نړيوال نظم غير انساني‌والی درک کړو. معاصر بتان؛ ارزښتونه، بنسټونه، سازمانونه او مفکورې يې وپېژنو او پر الله سبحانه وتعالی باندې په بشپړ توکل او د هغه پر نصرت باندې د باور له لارې ټول هغه افکار، احساسات او تشويشونه، چې د الله سبحانه وتعالی د دين د اظهار پر وړاندې خنډ کيږي، له ځانه ليرې کړو. خو دا هله شونې ده چې د ابراهيم عليه السلام په څېر د «حنيف» صفت خپل کړو، د حق پر لار روان شو، په دغه لار کې د پرتو ستونزو او کړاوونو پر وړاندې زغم او استقامت ولرو او يوازې پر الله سبحانه و تعالی توکل وکړو.

**قُلْ صَدَقَ اللَّهُ فَاتَّبِعُوا مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ** ﴿آل‌عمران: ۹۵﴾

ووايه؛ الله سبحانه وتعالی رښتيا ويلي، نو د ابراهيم عليه السلام د ملت (دين او طريقې «اسلام») څخه پيروي وکړئ، ځکه هغه حق ته تمايل درلود او له مشرکانو څخه نه و.

**د حزب التحرير- ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**